


# د شیطان دروازے

05-April-2024

هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(for Islamic Brothers)

پۀ 5 اپریل کال 2024ء د پاکستان پۀ هفته وارو اجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# د شیطان دروازے

پۀ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- ... د شیطان پشانتې خوک...؟
- ...د ټولې شپې د عبادت نه افضل
- ... ګناه یاد ساتل عبادت دے
- ... د شیطان لس دروازے او د هغې نه د بچ کیدو طریقې

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُالْعِلْمِیَۃ

Islamic Research Center

(شعبه: بیاناتِ دعوتِ اسلامي)

***For Feedback***:+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

**د آخري نبي، رسولِ هاشمي** صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم **فرمان مبارک دے:** چا چې په ما باندې سحر او ماښام لس، لس کَرَته دُرُود شریف ولوستو هغهٔ ته به د قیامت په ورځ زما شفاعت نصیب کیږي. (1)

کہیں گے اور نبی اِذْهَبُوْا اِلٰی غَیْرِیْ | مرے حضور کے لَب پر اَنَا لَهَا ہو گا (2)

**وضاحت:** د قیامت په ورځ چې به کله خلق د مختلفو انبیائے کرامو علیہم السّلام په خدمت کښې د شفاعت د خواست د پاره حاضریږي نو ټول انبیائے کرام علیہم السّلام به فرمائي: اِذْهَبُوْا اِلٰی غَیْرِیْ یعنې زما نه علاوه د بَل چا خوا له لاړ شئ! خو چې کله خلق په بارګاهِ رسالت کښې حاضر شي نو خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم به فرمائي: اَنَا لَهَا، اَنَا لَهَا [یعنې] د دې کار (یعنې د شفاعت) د پاره زهٔ یم.

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

---

1 ...مجمع الزوائد، کتاب الاذکار، جلد:10، صفحہ:120، حدیث:17022۔
2 ...ذوق نعت، صفحہ:54۔

# د بيان اوريدلو نيتونه

پۀ حديثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار پۀ نيتونو دے. [1]

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! ښۀ نيت بنده جنت ته رسوي، د بيان اوريدو نه مخکښې څۀ ښۀ ښۀ نِيَّتونه وکړئ: مَثَلاً ❀ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ❀ عِلمِ دِين به زده کووم ❀ پۀ اَدب به کښينم ❀ نصيحت به حاصلووم ❀ د اَحمَدِ مجتبیٰ، مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ پاک نوم اوريدو به درودِ پاک لولم.

## صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## اَلوداع اَلوداع رَمَضَانُ الْمُبَارَك...!!

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! لږې ورځې مخکښې خبره ده، د رَمَضَانُ الْمُبَارَك عاشقانو انتظار کولو چې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك مياشت راتلونکې ده. د رَمَضَانُ الْمُبَارَك تياري کيدله خو... دا د برکت والا ورځې ډيرې زر تيرې شوې او اوس د روژې مياشت پۀ ډيره تيزئ سره د ختميدو پۀ لور روانه ده. افسوس! ډير افسوس! بس يو څو ورځې پس به د روژې مياشت زمونږ نه رُخصت شي.

| | |
|---|---|
| ہوتے ہو تم ہم سے جدا،اے ماہِ رمضان اَلْوَدَاع! | ملوائے پھر تم سے خدا، اے ماہِ رمضان اَلْوَدَاع! |
| ماہِ صیام ایسے چلے قالب سے جاں جیسے چلے | ہَیْہَات تم کیسے چلے؟ اے ماہِ رمضان اَلْوَدَاع! |
| جاتے ہو اے ماہِ نجات! ہم ہاتھ پر ملتے ہیں ہاتھ | آتی ہے یاد ایک ایک بات، اے ماہِ رمضان اَلْوَدَاع! |
| جنّت کے تھے سب دَر کھلے، دوزخ کے سب دَر بند تھے | ہر دم تھی رحمت غیب سے، اے ماہِ رمضان اَلْوَدَاع! |
| راتوں کو وہ پڑھتے نماز، طَاعت کا وہ دَامن دَراز | خالق سے وہ عجز و نیاز، اے ماہِ رمضان اَلْوَدَاع! |

1 ...بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحہ:65، حدیث:1۔

شَھْرُ تَرَاوِیْح اَلْوَدَاع، ماہِ تَسَابِیْح اَلْوَدَاع | نورِ مَصَابِیْح اَلْوَدَاع، اے ماہِ رمضان اَلْوَدَاع!
اے ماہِ رمضان اَلسَّلام! اے فرضِ رحمٰن اَلسَّلام! | اے شَھرِ قرآن اَلسَّلام! اے ماہِ رمضان اَلْوَدَاع!
اے حضرتِ ماہِ صیام! بیدلؔ کا لیجئے سلام | تسلیم ہے ختمُ الکلام، اے ماہِ رمضان اَلْوَدَاع! (1)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## پاتې ژوند بې بها دے

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! اوس لا د رمضان يو څو ورځې پاتې دي، مونږ له پكار دي چې دا غنيمت وګڼو، د مسلمانانو د څلورم خليفه حضرت علي المرتضیٰ شيرِ خُدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ډير ښكلے فرمان مبارک دے چې بَقِيَّةُ عُمُرِالرَّجُلِ لَا ثَمَنَ لَهٗ يعني د انسان چې كوم ژوند پاتې دے، هغه بې بها دے. (2)

واقعي دا حقيقت دے، كوم سعتونه چې تير شوي دي، هغه خو هسې هم تير شوي دي، اوس به هغه چرې هم واپس نه راځي، كوم سعتونه چې اوس پاتې دي، دا بې بها دي، مونږ له پكار دي چې د دې نه فائده واخلو، په راتلونكي رَمَضَانُ الْمُبَارَك كښې به مونږه يو او كه نه، د دې خو مونږ ته پته نشته، لهٰذا دا كومې يو څو ورځې چې پاتې دي، چې په دې كښې ښۀ د زړه نه نيكئ وكړو، اوس يو يو منټ قيمتي دے چې د يو سعت ضائع كولو نه بغير ډير بركتونه حاصل كړو. د آخرئ عشرې طاق شپې هم رواني دي، په دې كښې يوه شپۀ شبِ قَدر وي ✿ هغه عظيمه شپۀ چې د زرو مياشتو نه بهتره ده. (3)

✿ په دې شپۀ سلامتيا نازليږي، فرښتې زمكې ته راكوزيږي او د عبادت كوونكو سره

[1] ...نورِ ایمان، صفحہ:37-38۔
[2] ...الزہد الکبیر للبیہقی، صفحہ:295، رقم:779۔
[3] ...ابن ماجہ، کتاب الصیام، باب ماجاء فی فضل شہر رمضان، صفحہ: حدیث:1644۔

مُصَافحه کوي. [1] ❀ بیا د دې نه پس لَيۡلَةُ الۡجَائِزه (یعنې د اختر شپهٔ) هم راتلونکې ده ❀هُغه عظیمه شپهٔ چې د رَمَضَانُ الۡمُبَارَك پهٔ ټوله میاشت کښې څومره [خلق] بخښلے شوي وي د هغوئي د ټولې شمیرې برابر بخښنه پهٔ دغه یوه شپهٔ کښې کیږي.[2] یعنې زمونږ د پاره ډیرې موقعې دي، بس چې مونږ ته یې قدر رانصیب شي. چې مونږ د دې قیمتي سعتونو نه پهٔ صحیح معنو کښې فائده اخستو کښې کامیاب شو.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم

## شیطان ازادیدونکے دے

اے د خوږ نبي صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم عاشقانو! د رَمَضَانُ الۡمُبَارَك میاشت زر رخصتیدونکې ده او د دې سره زمونږه اصلي او حقیقي دښمن یعنې شیطان هم ازادیدونکے دے. افسوس! شیطان چې څنګه را ازاد شي، شر فساد شروع کړي، چې څنګه دا اعلان وشي چې د اختر میاشت ولیدے شوه نو د رمضان عاشقان خو د رمضان د جدایۍ پهٔ غم کښې پهٔ چغو چغو ژاړي خو دا هم حقیقت دے چې پهٔ زرګاؤ خلق هغه وخت د شیطان پهٔ پنجه کښې راګیر شي ❀د سندرو او سازونو د ګناه ډک اوازونه پهٔ کوڅو بازارونو کښې شروع شي ❀پهٔ بازارونو کښې رش شروع شي ❀بے پردګي عامه شي ❀لوفران هلکان پهٔ سړکونو چغې او شپیلي وهل شروع کړي، بس داسې ووایئ چې د روژې ټوله میاشت پهٔ قید کښې د تیرولو پهٔ وجه شیطان مکمل طور لیونے شوے وي او د ټولې میاشتې غصه هم پهٔ یوه شپهٔ کښې اوباسي.

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! دا ښهٔ خبره نه ده، شیطان زمونږه دښمن دے ❀که

---

1... فضائل شہر رمضان للمقدسی، صفحہ:62، حدیث:26بتغیر۔

2... شُعَبُ الۡاِیمان، باب الصیام، فضائل شہر رمضان، جلد:3، صفحہ:304، حدیث:3606ملخصًا۔

خوشحالي وي او که غم ❁ اختر وي او که روژه ❁ که هر څنګه وخت وي ❁ کومې ورځې هم وي ❁ مونږ له دا بدبخته هم خپل دښمن ګڼل دي ❁ په یو وخت کښې هم د ده په پنجه کښې نه دي راګیریدل پکار. **الله** پاک په قرآنِ کریم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| اِنَّ الشَّیْطٰنَ لَکُمْ عَدُوٌّ فَاتَّخِذُوْهُ عَدُوًّا ؕ (پاره:22، فاطر:6) | [مفهوم] ترجمۂ کنزُالعِرفان: بیشکه شیطان ستاسو دُښمن دے نو تاسو هُم هغه دُښمن اوګڼئ، |

یعنې اے خلقو! د **الله** پاک په عبادت باندې قائم اوسئ او د **الله** پاک په نافرمانۍ کښې د شیطان پیروي مۀ کوئ بلکه د شیطان سره دښمني اوکړئ! او همیشه یې دُښمن ګڼئ! (1)

په یو ځائے کښې **الله** پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| اَفَتَتَّخِذُوْنَهٗ وَ ذُرِّیَّتَهٗۤ اَوْلِیَآءَ مِنْ دُوْنِیْ وَ هُمْ لَكُمْ عَدُوٌّ ؕ بِئْسَ لِلظّٰلِمِیْنَ بَدَلًا ﴿۵۰﴾ (پاره:15، اَلْکَھْف:50) | [مفهوم] ترجمۂ کنزُالعِرفان: آیا تاسو هغه او د هغه اولاد زما نه سِوا خپل دوستان جوړوئ حالانکه هغوئي ستاسو دُښمنان دي، |

یعنې اے خلقو! آیا تاسو شیطان او د هغه اولاد زما نه علاوه دوستان جوړوئ! یعنې زما بندګي پریږدئ او په هغۀ پسې ځئ...!! حالانکې ربتیا خو دا دي چې شیطان هم او د هغۀ اولاد هم ستاسو دښمنان دي. پس شیطان، د هغۀ اولاد او څوک چې په هغوئي پسې ځي هغوئي ټول ظالمان دي او د ظالمانو د پاره ډیره زیاته بده بدله ده. (2)

اَللّٰهُ اَکْبَر! اے د خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! څومره صفا خبره ده، غور وکړئ! مونږ ته څنګه زبردست خبردارے راکولے شي چې اے خلقو! د شیطان په دهوکه کولو د **الله**

---

1 ...مکاشفۃ القلوب، باب فی عداوۃ الشیطان، صفحہ:69۔

2 ...صراط الجنان، پارہ:15، سورۂ کہف، زیر آیت:50، جلد:5، صفحہ:581 بتغیر۔

پاک محبت ❀ د اللّٰه پاک اِطاعت ❀ د اللّٰه پاک فرمانبرداري ❀ د اللّٰه پاک عبادت ❀ او نور نیک کارونه مۀ پریږدئ...!! ځکه چې شیطان خو پۀ لعنت او غضب کښې هسې هم ډوب دے، تاسو به هم د ځان سره ډوب کړي.

سلسلہ آہ! گناہوں کا بڑھا جاتا ہے | نِت نیا جرم ہر اک آن ہوا جاتا ہے
نفس و شیطان کی ہر آن اطاعت پر دل | آہ! مائل مرے اللہ ہوا جاتا ہے
المدد یاشَہِ اَبرار مدینے والے | قلب سے خوفِ خدا دور ہوا جاتا ہے[1]

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## د شيطان دروازے

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! ډير زر به د رَمَضَانُ الْمُبَارَك مياشت رُخصت شي او ډير زر به شيطان د قيد نه ازاد شي. ځکه د نن او هم د اوس نه دا پخه اراده وکړئ چې مونږ به پۀ شيطان پسې نه ځو، د هغۀ پۀ چلونو کښې به نه راځو، د هغه نه به ځان بچ ساتو او د هغۀ د وسوسو نه به لرې اوسو او د هغۀ په دهوکه کښې به نۀ راځُو او راتلونکے ټول ژوند به صرف پۀ نيکو کښې تيروو.

اللّٰه پاک دې مونږه د شيطان د دهوکې نه محفوظ وساتي. (آمين) مونږ له ځان د شيطان نه څنګه بچ کول دي؟ د هغۀ د ګزار نه ځان څنګه ساتل دي؟ د دې بهترينه طريقه دا ده چې هغه دروازے پۀ کومو چې شيطان مونږ ته ځان رارسوي او بيا مونږه دهوکه کوي، مونږ له پکار دي چې مونږه هغه دروازے بالکل بندې کړو. هغه دروازے کومې کومې دي؟ واورئ!

---

[1] ...وسائلِ بخشش، صفحہ:432ملتقطاً۔

## د شيطان پشانتي څوک...؟

منقول دي: يو ځل د يو نيک انسان د شيطان سره ملاقات وشو، هغهٔ نيک انسان ډير عقل مند وو، هغهٔ شيطان ته ووئيل: اے ابليسه! دا ووايه چې زهٔ ستا پشانتي څنګه جوړيدے شم؟ شيطان ووئيل: تا لره دې تباهي وي! دا څنګه پوښتنه دې وکړه؟ زما نه چا چرې هم داسې پوښتنه نهٔ ده کړې (هر څوک هم زما نه د بچ کيدو طريقې لټوي او تهٔ يې چې زما پشانتي جوړيدل غواړې)؟ نيک انسان ووئيل: بس زهٔ دا غواړم چې تهٔ زما د پوښتنې جواب راکړې. شيطان (ډير خوشحاله شو او) خپل راز يې ښکاره کړو او اوئې وئيل: زما پشانتي جوړيدل ډير اسان دي، بس دوه کارونه کوه! **(1):** پهٔ نمونځونو کښې سستي کوه! او **(2):** که د دروغو وي او که د رښتياو وي بس ډير ډير قسمونه خوره! تهٔ به زما پهٔ شان شې. دا يې چې واوريدل نو هغه نيک انسان ووئيل: **زهٔ د الله پاک سره وعده کووم چې هيڅکله به هُم دا دوه کارونه نهٔ کووم.** شيطان ووئيل: زهٔ چرې هم چا داسې نه يم دهوکه کړے، زهٔ هم وعده کووم چې آئينده به يو انسان ته هم نصيحت نه کووم. [1]

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د غور مقام دے...!! دوه کارونه کوم چې د انسان نه شيطان جوړوي. **(1):** پهٔ نمونځونو کښې سستي کول **(2):** زيات قسمونه خوړل. **افسوس چې دا دواړه کارونه زمونږه پهٔ معاشره کښې ورځ په ورځ زياتيږي.** اوس خو اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د برکتونو والا ورځې دي، پهٔ جوماتونو کښې چې څنګه پکار ده هغسې کنه خو نشته خو بهر حال څهٔ نا څهٔ رونق شته، د نمونځ کوونکو شميره زياته شوې خو ده **خو افسوس!** چې څنګه د رَمَضَانُ الْمُبَارَك مياشت رُخصت شي، پهٔ نمونځونو کښې به سستي بيا زياته شي. جوماتونه به شاړ شي، پهٔ شمار به يو څو نمونځ کوونکي پاتې شي.

---

[1] ...تنبیه الغافلین، باب الصلوات الخمس، صفحہ:158۔

اے د خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! مونږ له د شيطان سره دښمني کول دي، هغه هر وخت خپل دښمن ګڼل دي، ځکه نن دا پخه اراده وکړئ چې مونږ به پهٔ نـمونځونو کښې هيڅکله هم سستي نه کوو، د اختر د شپې د ماسخوتن نـمونځ به هم د جَمعې سره ادا کوو، د سحر نـمونځ به هم د جَمعې سره کوو، د اختر پهٔ ورځ به هم پينځهٔ واړه نـمونځونه د جَمعې سره کوو او د دې نه پس به هم ټول عمر پينځهٔ وخته نـمونځونه پهٔ جومات کښې د جَمعې سره بلکې پهٔ وړومبي صف کښې ادا کوو.

| | |
|---|---|
| دیدارِ حَق دِکھائے گی اے بھائیو! نماز | جنّت تمھیں دِلائے گی اے بھائیو! نماز |
| دربارِ مُصطفٰے میں تمھیں لے کے جائے گی | خالِق سے بَخشوائے گی اے بھائیو! نماز |
| عزّت کے ساتھ نُوری لِباس اچّھے زیورات | سب کچھ تمھیں پہنائے گی اے بھائیو! نَماز |
| جنَّت میں نَرم نَرم بچھونوں کے تَخت پر | آرام سے سُلائے گی اے بھائیو! نماز |
| خِدمَت تمہاری کریں گی حُوریں اَدَب کے ساتھ | رُتبہ بہت بڑھائے گی اے بھائیو! نماز |
| کوثر کے سَلسَبِیل کے شربَت پِلائے گی | میوے تمھیں کِھلائے گی اے بھائیو! نماز |
| سب عِطر و پُھول ہوں گے نچھاور پسینے پر | خُوشبو میں جب بَسائے گی اے بھائیو! نماز |
| رَحمت کے شامیانوں میں خُوشبو کے ساتھ ساتھ | ٹھنڈی ہوا چلائے گی اے بھائیو! نماز |
| باغِ بہشت روضۂ رِضواں بہارِ خُلد | سب کچھ تمھیں دِکھائے گی اے بھائیو! نماز |
| پڑھتے رہو نماز کہ دونوں جہان میں | سب کچھ تمھیں دِلائے گی اے بھائیو! نماز |
| فاقے سے مُفلسی سے جہنّم کی آگ سے | سب سے تمھیں بچائے گی اے بھائیو! نماز |
| پڑھ کر نماز ساتھ لو سامانِ آخرت | محشر میں کام آئے گی اے بھائیو! نماز |
| بات اعظمیؔ کی مانو نہ چھوڑو کبھی نماز | اللہ سے مِلائے گی اے بھائیو! نماز |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## بے نــمانځه د دوزخ حقدار دے

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! نــمونځ د اِسلام پۀ بنيادي ارکانو کښې يو ډير اَهم رُکن دے. دې ته د اِسلام سَتن وئيلے شوې ده [1] او مونږ ته پته ده چې کله د ودانۍ [يعنې بِلډِنګ] ستن راپريوځي نو بِلډِنګ راغورځيږي يعنې نــمونځ هُغه عظيم عبادت دے کوم چې زمونږه ايمان مضبوطوي، **الله** دې نۀ کړي که پۀ نــمونځ کښې مو سستي شروع شوه نو هيڅ لرې نه ده چې **زمونږ د زړۀ نه د ايمان نُور هم ووځي.** ځکه پۀ نــمونځ کښې چرې هم سستي مۀ کوئ!

اعلىٰ حضرت، امام اهلسُنّت، امام احمد رضا خان رَحمَةُ الله عَلَيه ليکي: چا چې قصداً عمداً د يو وخت (نــمونځ هم) پريښودو، پۀ زرګاؤ کاله د دوزخ حقدار شو، تر څو چې توبه نه کړي او د دې قضا رانوړي. [2]

| | |
|---|---|
| ہو گی دنیا خراب آخِرت بھی خراب | بھائیو! تم کبھی چھوڑنا مت نماز |
| بے نمازی جہنّم کا حقدار ہے | بھائیو! تم کبھی چھوڑنا مت نماز |
| دیکھو! اللہ ناراض ہو جائے گا | بھائیو! تم کبھی چھوڑنا مت نماز (3) |

پۀ قرآنِ پاک کښې پۀ شپاړسمه سيپاره، سُورۀ مريم آيت نمبر 59 کښې اِرشاد دے:

| | |
|---|---|
| فَخَلَفَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ اَضَاعُوا الصَّلٰوةَ وَ اتَّبَعُوا الشَّهَوٰتِ فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا ﴿۵۹﴾ | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: نو د هغوئي نه پس هُغه نالائقه خلق د هغوئي په ځائے راغلل کومو چې لــمونځونه ضائع کړل او د خپلو خواهشاتو تابعداري ئې اوکړه نو نزدې ده چې هغوئي به د دوزخ خوفناکې کندې غئ سره مخ کيږي. |

[1] ...کنز العمال، کتاب الصلاۃ، الفصل الثانی فی فضائل الصلاۃ، جز:7، جلد:4، حدیث:18885۔

[2] ...فتاویٰ رضویہ، جلد:9، صفحہ:158۔

[3] ...وسائلِ فردوس، صفحہ:23 ملتقطاً۔

پهٔ بيان کړے شوي آيت مبارک کښې د "غَيّ" ذِکر دے او د دې نه مُراد د دوزخ يوه کنده ده. صاحبِ بهارِ شريعت صَدرُ الشَّرِيعَه مفتي محمد امجد علي اَعظَمي رَحمَةُ اللهِ عَلَيه فرمائي: "غَيّ" پهٔ دوزخ کښې يوه کنده ده کومه چې د ټولو نه زياته ګرمه او د ټولو نه زياته ژوره ده، پهٔ دې کښې يو کوهے دے چې نوم يې "هَب هَب" دے، چې کله د دوزخ وور پهٔ مړ کيدو شي نو الله پاک دا کوهے برسيره کړي او هغه (يعني د دوزخ وور) بيا د مخکښې پشان پهٔ غرغنډو شي (الله پاک ارشاد فرمائي:)

كُلَّمَا خَبَتْ زِدْنٰهُمْ سَعِيْرًا ﴿۹۷﴾ (پاره:15، بنی اسرائیل:97)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: چې کله به په مړ کيدو شي نو مونږ به ئې د هغوئي د پاره نور راتودوو.

دا کوهے ❀ د بے لمانځو ❀ زنا کارو ❀ شرابيانو ❀ سود خورو ❀ او مور پلار له د تکليف ورکوونکو د پاره دے. (1)

ہو گیا تجھ سے خدا ناراض اگر | قَبر سُن لے آگ سے جَائیگی بھر
عُمر میں چُھوٹی ہے گر کوئی نماز | جَلد ادا کر لے تُو آ غَفلت سے بَاز (2)

الله پاک دې مونږ ته پينځه وخته نمونځونه د جَمعې د تکبيرِ اُولیٰ سره د ادا کولو توفيق راعطا کړي. اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د شيطان دروازه: د اِستغفار نه غفلت

حضرت عبد الرحمان بن زياد رَحمَةُ اللهِ عَلَيه فرمائي: يو ځل حضرت موسیٰ عَلَيهِ السَّلَام تشريف فرما وو، مخامخ يې يو ګس راروان وليدو، هغهٔ رنګينه ټوپۍ پهٔ سر کړې وه، چې کله هغهٔ رانزدې شو نو هغهٔ هغه ټوپۍ لرې کړه، حضرت موسیٰ عَلَيهِ السَّلَام ترينه

---

1...بہارِ شریعت، جلد:1، صفحہ:434، حصہ:3۔
2...وسائلِ بخشش، صفحہ:713۔

پوښتنه وکړه: ته څوک يې؟ هغۀ ووئيل: زۀ ابليس يم. موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام وفرمائيل: دا کومه ټوپۍ چې تا پۀ سر کړې وه، دا څۀ دي؟ هغۀ اووئيل: دا زما هٰغه جالونه دي کوم چې زۀ د آدم پۀ اولاد باندې وراچووم. حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام پوښتنه وکړه: دا ووايه! هغه کومه يوه بدي ده چې کله انسان هغه وکړي نو تۀ پۀ هغه باندې قابو بياموې. شيطان ووئيل: **چې کله انسان پۀ ځان خوښۍ کښې اخته شي (يعني ناز شروع کړي) او خپل ګناهونه هير کړي نو زۀ پۀ هغۀ باندې غلبه بياموم.** (1)

**اللهٔ! اللهٔ! خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** د دې روايت نه معلومه شوه چې په سرکشۍ کښې اخته کيدل او خپل ګناهونه هيرول هم د شيطان پۀ جال کښې د ګيريدو سبب دے. واقعي دا حقيت دے، چې کله انسان خپل ګناهونه هير کړي نو هغه پۀ خپل ځان باندې ناز شروع کړي او د **اللّٰه** پاک د پټ تدبير نه بے ويرې شي او مطمئين شي، او دا اطمينان او نۀ ويريدل هٰغه خيز دے کوم چې د شيطان کار اسانوي. ځکه مونږ له پکار دي چې هر وخت خپل ګناهونه ياد ساتو، د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: **خپلې نيکۍ هيرول او ګناهونه ياد ساتل عِبادت دے.** (2)

افسوس چې نن صبا کار اُلټا دے، خلق نيکۍ يادې ساتي او ګناهونه هيروي ❁ يوه ورځ کړې تهجد ياد ساتي او د 50 ورځو قضا شوي نـمونځونه هير کړي ❁ بعضې خلق ډير پۀ فخر سره وائي: دا ځل ما پۀ رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې لس روژې ونيولې، چې څوک ورته دا ووائي چې نه ورور! تا شل روژې اوخوړلې! ❁ هُم داسې پۀ جومات کښې ورکړې لس روپۍ يادې ساتي خو پۀ تجارت کښې پۀ دهوکه ګټلې زرګاؤ روپۍ هيرې کړي. **ياد ساتئ**

---

1... تنبيه الغافلين، باب عداوة الشيطان و معرفة مكايده، صفحه: 346۔
2... تفسير نعيمی، پاره: 1، سورۂ بقره، زيرِ آيت: 40، جلد: 1، صفحه: 325 ملتقطاً۔

چې دا ډېره د اندېښنې خبره ده، خپل ګناهونه هېرول د شيطان دروازه ده. چې کله انسان خپل ګناهونه هېر کړي نو شيطان پرې غالب راشي. ځکه خپل ګناهونه هميشه ياد ساتئ ولې چې دا هُغه ذريعه ده چې په دې به زمونږه په زړهٔ کښې نرمي پيدا کيږي، په زړهٔ کښې به مو د **اللّٰه** پاک وېره پيدا کيږي نو توبه به هم کوو او ائينده به د ګناهونو نه ځان هم بچ ساتو.

## د ماشومتوب ګناه يـې ياده ساتله

حضرت امامِ حسن بصري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه چې ډېر لوئي وَلِيُّ الله وو، د هغوئي په سيرت کښې دي چې د هغوئي نه په ماشومتوب کښې يوه ګناه شوې وه، حالانکې د نابالغه ماشوم ګناه، ګناه نه وي، د دې باوجود به هغوئي هغه ګناه ياده ساتله، د هغوئي عادت مبارک وو چې کله به يـې هم نوې جامې وګنډلې نو د هغې په ګريوان باندې به يـې هغه ګناه وليکله، بيا به يـې هغې ته بيا بيا کتل او د پښيمانتيا اوښکې به يـې توئيولې. [1]

اَللّٰهُ اَکْبَر! خومره ځانګړے انداز دے. مونږ له هم پکار دي چې خپلې غلطيانې، بے خيالۍ او ګناهونه هميشه ياد ساتو، د هغې په باره کښې بيا بيا سوچ کوو او د **اللّٰه** پاک د عذاب نه، د هغه د ګرفت نه وېرېږو، چې داسې کوو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيْم! د توبې توفيق به هم رانصيب کيږي او بيا د پاره به مو ګناهونو نه د بچ کيدو ذهن هم جوړيږي.

| | |
|---|---|
| گناہوں کی نحوست بڑھ رہی ہے دم بدم مولیٰ | میں توبہ پر نہیں رہ پارہا ثابِت قدم مولیٰ! |
| گناہوں نے مجھے ہائے! کہیں کا بھی نہیں چھوڑا | کرم ہو از طفیلِ سیِّدِ عَرب و عجم مولیٰ! |
| اندھیری قبر کا احساس ہے پھر بھی نہیں جاتیں | گناہوں کی خدایا عادتیں، فرما کرم مولیٰ! |
| میں رحمت، مغفرت، دوزخ سے آزادی کا سائل ہوں | مہِ رمضان کے صدقے میں فرمادے کرم مولیٰ! (2) |

---

[1]... تذکرۃ الاولیاء، جز:1، صفحہ:39۔
[2]... وسائلِ بخشش، صفحہ:97-98 ملتقطاً۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د شيطان دروازه: پۀ مړه ګېډه خوراک کول

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! حضرت امام محمد بن محمد غزالي رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: د شيطان يوه دروازه پۀ مړه ګېډه خوراک هم دے.(1) يعنې چې کله مونږه پۀ مړه ګېډه خوراک وکړو، اګر که رزقِ حلال وي نو د نفس خواهشونه مضبوطيږي، سستي زياتيږي، بيا د شيطان د پاره پۀ مونږ باندې حمله اسانه شي او هغه مونږه پۀ اسانۍ سره تير باسي. ځکه که مونږه د شيطان نه بچ کيدل غواړو نو هم د نن نه دا پخه اراده کول پکار دي چې مونږ به پۀ مړه ګېډه خوراک نه کوو.

## شيطان پۀ وينه کښې ګرځي

پۀ حديثِ پاک کښې دي: بے شکه شيطان د انسان (پۀ بدن) کښې د وينې پۀ شان ګرځي.(2) صوفيائے کرام رحمۃ اللہ علیہم فرمائي: بس د دۀ لارې د لوږې پۀ ذريعه تنګې کړئ.(3)

## د تږلې شپې د عبادت نه افضل

حضرت ابو سليمان رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: پۀ خوراک کښې د شپې يوه نـمړی کمول د تږلې شپې د عبادت نه زما زيات خوښ دي. نور فرمائي، لوږه د **الله** پاک د خزانو نه يوه خزانه ده او دا صرف هم خپلو خوښو بندګانو ته عطا کوي.(4)

دعا ہے کچھ نہ کچھ لقمے خدا کے واسطے چھوڑوں

---

1... مکاشفۃ القلوب، باب فی الریاضۃ...الخ، صفحہ:24بتغیر۔
2... بخاری، کتاب الاعتکاف، باب زیارۃ المراۃ زوجہا فی اعتکافہ، صفحہ:533، حدیث:2038۔
3... کشف الخفاء جلد:1، صفحہ:198۔
4... احیاء علوم الدین، کتاب کسر الشہوتین، جلد:3، صفحہ:104۔

رِضائے حق کی خاطِر لذّتِ دنیا سے منہ موڑوں

## د دِین غِلاف

د حضرت حامِد لَفَّاف رحمۃ اللہ علیہ پهٔ خدمت کښې يو ګس عرض وکړو چې ما ته څهٔ نصيحت وکړئ! اوئې فرمائيل: د دِين د حفاظت د پاره د قرآنِ کريم پهٔ شان غِلاف جوړ کړه. ❁ عرض يـې وکړو: د دِين غِلاف څهٔ دے؟ اوئې فرمائيل: ❁ د ضرورت نه د زياتو خبرو کولو نه بچ کيدل ❁ د خلقو سره بے ضرورته نه ميلاويدل ❁ او د ضرورت نه زيات خوراک نه کول. نور يـې ووفرمائيل: که چرې تاسو ته معلومه شي چې د اللہ پاک سره به د خوړ آقا صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم او د صحابهٔ کرامو رضی اللہ عنہم سره د ايمان والؤ پهٔ جنّت کښې څنګه ميلمستيا کيږي نو د دې دُنيا د يو څو ورځو پهٔ دې ژوند کښې به مو چرې هم پهٔ مړه ګيډه خوراک نه وے کړے. (1)

## د عبادت خوږ والے

حضرت امام محمد بن محمد غزالي رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: پهٔ مړه ګيډه د خوراک سره د عبادت خوږ والے ختميږي. د مسلمانانو وړومبي خليفه حضرت ابو بکر صِدّيقِ اکبر رضی اللہ عنہ فرمائي: د کله نه چې مسلمان شوے يم پهٔ مړهٔ ګيډه مې خوراک نه دے کړے، د پاره د دې چې د عبادت خوږ والے مې نصيب شي او د کله نه چې زهٔ مسلمان شوے يم د اللہ پاک د ديدار پهٔ شوق کښې مې کله هم پهٔ اوبو څان نهٔ دے موړ کړے.(2)

بھوک کی اور پیاس کی مولیٰ مجھے سوغات دے | یاالٰہی! حَشْر میں دیدار کی خیرات دے

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! ډير زر به د رَمَضَانُ الْمُبَارَك مياشت رخصت شي او د

1...تذکرۃ الواعظین، الباب العشرون فی فضیلۃ التوکل...الخ، صفحہ:46۔
2...منہاج العابدین، الباب الثالث...الخ، الفصل الخامس...الخ، صفحہ:84۔

خوراک خنباک ورځې به راشي، اګرچې حلال خوړل بالکل جائز دي، البته د زيات خوراک نه بچ کيدل بهتر دي، ځکه چې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د مياشت نه پس هم مونږ ته وروميے دا کوشش کول دي چې د نفلي روژو عادت جوړ کړو. او که روژې نۀ شو نيولے نو هُم مونږ له پکار دي چې رِزقِ حلال هُم د کم خوړلو عادت جوړ کړو. د دې پۀ برکت به مو صحت هُم ښۀ وي او ورسره به اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! د شيطان نه هُم پۀ حفاظت کښې اوسيږو.

## د شش عيد د روژو ترغيب

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د رَمَضَانُ الْمُبَارَك نه پس د شوّالُ الْمُکَرَّم مياشت ده۔ خوش نصيبه مسلمانان په دې مياشت کښې د واړه اختر نه پس د 6 روژو نيولو سعادت حاصلوي۔ راځئ چې د دې روژو فضائل واورو ✿په حديثِ پاک کښې دي: چا چې د رَمَضان روژې ونيولې بيا يـې د هغو نه پس 6 روژې په شَوّال کښې ونيولې نو هغه د ګناهونو نه داسې اُووتو لکه هُم نن چې د مور د ګيډې نه پيدا شوے وي۔[1] ✿ چا چې د رَمَضان روژې ونيولې بيا يـې د هغو نه پس 6 روژې په شَوّال کښې ونيولې نو هغه داسې دے لکه د ټول عمر روژه يـې چې ونيوله۔[2]✿خَليلِ مِلَّت مفتي محمد خليل خان برکاتي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: دا روژې که د اختر نه پس مسلسل ونيولے شي نو بيا هُم باک نشته او بهتره دا ده چې په هره هفته کښې دوه روژې ونيسي۔ او که د اختر په دويمه ورځ يوه روژه ونيسي او نورې په پوره مياشت کښې [چې کله اوغواړي] ونيسي نو نور هُم مناسب معلوميږي۔[3]

---

1...مجمع الزوائد، کتاب الصيام، باب فيمن صام...الخ، جلد:3، صفحہ:322، حديث:5102۔
2...مسلم، کتاب الصيام، باب استحباب صوم...الخ، صفحہ:424، حديث:1164۔
3...سنی بہشتی زيور، صفحہ:347۔

# د شيطان لس دروازے او د هغې نه د بچ کيدلو طريقې

يو بزرګ رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: ما چې غور وکړو چې د شيطان دروازے هُغه کومې دي د کومو په ذريعه چې هغه انسان دهوکه کوي؟ نو ما ته د قرآن او حديث په رڼا کښې معلومه شوه چې د شيطان لس دروازے دي او د دې نه د بچ کيدو طريقې هم لس دي: **(1):** شيطان د لالچ په لار په انسان باندې حمله کوي، د دې علاج دا دے چې انسان قناعت اختيار کړي (يعني چې څۀ او څومره **الله** پاک ورعطا کړي دي، په هغې باندې خوشحاله اوسي) **(2):** شيطان په اوږدو اُميدونو انسان تير باسي، د دې علاج دا دے چې انسان مرګ هر وخت ياد ساتي **(3):** شيطان په راحت او ارام او په دنيائي نعمتونو کښې د غرقيدو په لاره حمله کوي، د دې عِلاج دا دے چې انسان د نعمت په ختميدلو او د دې نعمتونو د حساب په باره کښې فکر وکړي **(4):** شيطان د ځان خوښۍ په لاره باندې حمله کوي، د دې علاج دا دے چې انسان د **الله** پاک اِحسانونه ياد وساتي او د بد انجام ويره ولري **(5):** د مسلمانانو وروڼو د سپک او کم تر ګڼلو په لاره شيطان حمله کوي، د دې علاج دا دے چې انسان د خپلو مسلمانانو وروڼو عزت کوي **(6):** شيطان د حسد په ذريعه انسان تير باسي، د دې علاج دا دے چې انسان د **الله** پاک په تقسيم باندې راضي اوسي (او نورو ته ميلاو شوو نعمتونو ته د لالچ په نظر نه ګوري) **(7):** شيطان د رياکارۍ په لاره حمله کوي، د دې علاج په اِخلاص کښې دے چې بنده صرف او صرف د **الله** پاک د رضا طلب ګار جوړ شي **(8):** شيطان د کنجوسۍ په ذريعه دهوکه ورکوي، د دې علاج دا دے چې انسان د آخرت نعمتونه ياد ساتي او د دُنيا مال د **رَبّ تعالیٰ** په لار کښې لګوي **(9):** شيطان د تکبر په لاره حمله کوي، د دې علاج دا دے چې انسان عاجزي اختيار کړي **(10):** شيطان د لالچ (يعني خلقو سره موجودو نعمتونو ته

د لالچ پهٔ نظر د کتلو) پهٔ ذريعه دهوکه ورکوي، د دې علاج دا دے چې بنده صرف د رَبِّ کريم په عطاګانو نظر ساتي او خلقو سره د موجودو څيزونو نه مايوسه شي.(1)

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! دا د شيطان يو څو دروازے دي، د کومو پهٔ ذريعه چې شيطان مونږه تير باسي ❁پهٔ نـمونځونو کښې سستي د شيطان دروازه ده ❁خپل ګناهونه هيرول د شيطان دروازه ده پهٔ مړه ګېډه خوراک کول هم د شيطان دروازه ده ❁لالچ ❁اوږده اميدونه ❁ارام طلبي ❁ځان خوښي خپل مسلمانان ورونړه سپک ګڼل ❁حسد کول ❁رياکاري کول او ❁کنجوسي وغيره دا ټولې د شيطان دروازے دي، مونږ له پکار دي چې د دې ظاهري او باطني بدو نه هميشه ځان ساتو، د پاره د دې چې مونږ د شيطاني وسوسو نه محفوظ پاتې شو.

## د شيطان نه د بچ کيدو يو څو نورې طريقې

د دې نه علاوه د شيطان نه د بچ کيدو يو څو نورې طريقې هم دي.

### (1): د ذِکرُ الله کثرت

د حضرت عمر بن عبد العزيز رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ نه روايت دے: چا د الله پاک نه پوښتنه وکړه چې ما ته د انسان پهٔ زړهٔ کښې د شيطان ځائے وښائي، پهٔ خوب کښې هغهٔ د شيشې پهٔ شان پاک او صفا يو انساني بدن وليدو کوم چې د دننه او بهر نه يو شان ښکاريدو، شيطان يـې وليدو چې هغه د انسان د ګڅې اوګې او غوږ ترمينځه د چيندخ پهٔ شکل کښې ناست وو او د خپل اوږد خړتم په ذريعه يـې د هغهٔ پهٔ زړهٔ کښې وسوسې اچولې. چې کله به هغه انسان د الله ذِکر کولو نو هغه [شيطان] به فوراً لرې شو. (2)

---

1...تنبیہ الغافلین، باب عداوۃ الشیطان ومعرفۃ مکایدہ، صفحہ:345 ملخصًا۔

2...مکاشفۃ القلوب، باب عداوۃ الشیطان، صفحہ:79۔

د حضرت ابن مسعود رضی اللہ عنہ قول دے چې د مومن شیطان کمزورے وي. د حضرت قیس بن حجاج رحمۃ اللہ علیہ قول دے چې ما ته زما شیطان ووئیل: چې زۀ کله ستا دننه داخل شوم نو د اوښ په شان ووم او اوس د چرچڼي په شان یم، ما ووئیل: دا ولې؟ شیطان ووئیل: تا زۀ د الله پاک د ذِکر په ذریعه کمزورے کړے یم.[1]

## (2): د ژبې قفلِ مدینه

دغسې خاموشي (یعني د فضول او د ګناهونو نه ډکو خبرو نه بچ کیدل) هم د شیطان نه د بچ کیدو بهترینه طریقه ده. حضرت ابو سعید خدري رضی اللہ عنہ فرمائي: یو ځل یو ګس په بارګاهِ رسالت کښې حاضر شو او عرض یې وکړو: یا رسولَ الله صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم ما ته نصیحت وکړئ! هغوئي صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم د یو څو نصیحتونو کولو نه پس ووفرمائیل: وَاخْزُنْ لِسَانَكَ إِلَّا مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّكَ بِذٰلِكَ تَغْلِبُ الشَّيْطَانَ یعني خپله ژبه په قابو کښې ساته ځکه چې **دا (یعني ژبه په قابو کښې ساتل) ښه خیز دے، چې د دې په ذریعه به ته په شیطان باندې غلبه حاصله کړې.**[2]

**عُلَما فرمائي:** خاموشي هٰغه نعمت دے د کوم په ذریعه چې انسان په شیطان باندې غلبه بیاموي، لهٰذا هر مسلمان له پکار دي چې د خپلې ژبې حفاظت وکړي.[3]

## (3): تَعَوُّذ لوستل

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د شیطان نه د بچ کیدو یوه بهترینه طریقه **تَعَوُّذ** یعني د اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ کثرت کول هم دي. یعني چې مونږه په کثرت سره په ناسته، ولاړه، ګرځیدو کښې اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ لولو، د دې په برکت سره به هم اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیْم! د شیطان

---

1... مکاشفة القلوب، باب فی مکر الشیطان، صفحہ: 443۔
2... معجم صغیر، صفحہ: 655، حدیث: 949۔
3... تنبیہ الغافلین، باب حفظ اللسان، صفحہ: 119۔

د چلونو نه بچ اوسیږو. پهٔ حدیثِ پاک کښې دي: کوم بنده چې پهٔ ورځ کښې لس کرته اَعُوْذُبِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْم لولي نو **اللّٰه** پاک به د یوې فرښتې ډیوټي ولګوي کومه چې به شیطان د هغهٔ نه داسې لرې زغلوي لکه څنګه چې د عربو خلق اوښان د اوبو د تالاب نه شَړي. (1)

## د تَعَوُّذ برکت

منقول دي: حضرت ابو سعید خدري رضی اللہ عنہ فرمائي چې ما پهٔ یو ځائے کښې شیطان تیتې شوے ولیدو نو ما د لښتې پهٔ ذریعه پهٔ هغهٔ باندې د ګزار کولو اراده وکړه، شیطان ما ته ووئیل چې اے ابو سعیده! آیا تا ته معلومه نه ده چې زهٔ د لښتې او د دنیائي وسلې هیڅ ویره نهٔ لرم؟ ما ووئیل: اے لعنتي! تهٔ د کوم څیز نه ویریږې؟ هغهٔ جواب راکړو چې زهٔ (پهٔ دې دنیا کښې صرف) د 2 څیزونو نه ویریږم: (1): د تَعَوُّذ لوستونکو د تَعَوُّذ یعنې د اَعُوْذُبِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْم د لوستلو نه، او (2): د صدیقینو د معرفت د پلوشو نه. (2)

سُبْحٰنَ اللّٰه! معلومه شوه چې د اَعُوْذُبِاللّٰه لوستلو نه شیطان ویریږي، **اللّٰه** پاک دې مونږ ته د دې بدبخته د ویرولو او د دهٔ د چلونو نه د بچ کیدو توفیق راعطا کړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم

## پهٔ 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: نیک اَعمَال

خورو او محترمو اسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د نفس او شیطان د چلونو نه د بچ کیدو، د نیک نمونځ ګزاره جوړیدو او پهٔ نیکو باندې د استقامت موندلو د پاره د عاشقانِ رسول دیني تحریک دعوتِ اِسلامي دیني ماحول ته راشئ او د ذیلي حلقې پهٔ 12 دیني کارونو

---

1... سلوة العارفين، باب فضيلة التعوذ، جلد:1، صفحہ:124۔
2... سلوة العارفين، باب فضيلة التعوذ، جلد:1، صفحہ:124۔

کښې هم ډېره ډېره برخه اخلئ! د دې پۀ برکت به اِنْ شَآءَاللهُ الْکَرِيم! د دنيا او آخرت بے شميره خيرونه درنصيب شي. د ذيلي حلقې پۀ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار دے: د "نيک اعمال رسالې" نه روزانه [د خپلو اعمالو] جائزه اخستل.

❁ رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: عقل مند هغۀ دے څوک چې خپله محاسبه او د مرګ نه پس [ژوندون] د پاره عمل وکړي [(1)] ❁ د ځان د اصلاح او د شيطان نه د بچ کيدو بهترينه طريقه هم دا ده چې مونږ د خپلو عادتونو، خپل کردار او د خپلو اعمالو جائزه اخلو. پۀ اوسني وخت کښې اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه د خپل ځان د جائزې اخستو اسانه طريقه ښودلې ده: رساله نيک اعمال ❁ د اسلامي ورونړو د پاره پۀ نيک اعمال رساله کښې 72 سوالونه او جوابونه ليکلے شوي دي ❁ د هر سوال نه لاندې 30 خانې دي ❁ هره ورځ د سوال لوستلو سره خپله جائزه اخستل دي او خانے ډکول دي ❁ نيک اعمال رساله د صحيح اسلامي ژوند تيرولو بهترينه نسخه ده ❁ د دې پۀ ذريعه پته نه لګي چې د څومره خلقو اصلاح شوې ده.

تاسو هم دا رساله واخلئ! د نيک اعمال مطابق هره ورځ خپله جائزه اخلئ! اِنْ شَآءَاللهُ الْکَرِيم! ډېره فائده به در ورسي ❁ اخلاق به مو ښۀ شي ❁ کردار به مو ښۀ شي ❁ عادتونه به مو ښۀ شي ❁ پۀ نيکو باندې به استقامت درنصيب شي ❁ د ګناهونو نه به مو نفرت پيدا شي ❁ زړۀ به مو روښانه شي ❁ د الله پاک محبت به درنصيب شي ❁ عشق رسول به مو زيات شي ❁ روحانيت به درنصيب شي او ❁ د آخرت فکر به درنصيب شي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

[1] ...ترمذی، ابواب صفة القيامة، صفحه:583، حديث:2459۔

## د ټولې کورنۍ اِصلاح وشوه

د ضلع اټک (پنجاب، پاکستان) د يو اسلامي ورور بيان دے، ما د ګناهونو نه ډک ژوند تيرولو، فلمونه کتل، لوفري کول، نـمونځونه قضا کول وغيره زما پۀ معمولاتو کښې شامل وو، يو ځل زمونږه علاقې ته د عاشقانِ رسول مَدَني قافله راغله، پۀ هغوئي کښې يو اسلامي ورور ماته د ماښام د نـمونځ کولو او بيان کښې د شرکت کولو دعوت راکړو، زما خوش قسمتي وه چې زه د هغوئي سره جومات ته لاړم، د ماښام د نـمونځ نه پس بيان ما له ډيره مزه راکړه، د بيان پۀ آخره کښې مبلغ د نیک اعمال رسالې تعارف وکړو، پۀ رساله نیک اعمال کښې مې چې د نيکو نه د ډک ژوند تيرولو مَدَني ګلونه وليدل نو زۀ ډير خوشحاله شوم، د دې رسالې پۀ شکل کښې چې مې د شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د اُمَّت د اصلاح د پاره کوشش وليدو نو ما سمدستي د بيعت کولو د پاره نوم ورکړو او عطّاري جوړ شوم، د وخت د ولئ کامل سره مې نسبت څۀ جوړ شو چې د ګناهونو نه بيزاره شوم او د نيکو طرفته مائل شوم، ما د ګناهونو نه توبه کړه او د دعوتِ اسلامي ديني ماحول کښې د زړۀ نه شامل شوم، د دې پۀ برکت سره زما په اخلاقو هُم ښۀ اثر وشو، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! پۀ قلاره قلاره زمونږه ټوله کورنۍ قادري، رضوي، عطّاري جوړه شوه، پۀ کور کښې د نـمونځونو پابندي شروع شوه، فلمونه ډرامې او سندرې باجې بندې شوې او د ګناهونو نه د ډک چينل پۀ ځائے مَدَني چينل ولګيدو.

خوب مَدنی قافِلوں کی دھوم ہو | نیک ہو امّت اے نانائے حسین!
مَدنی اِنعامات کی ہو ریل پیل | نیک ہو امّت اے نانائے حسین![1]

نوټ: د دعوتِ اسلامي پۀ ديني ماحول کښې مَدَني انعامات ته اوس نیک اَعمَال وئيلے شي.

---

[1]...وسائلِ بخشش، صفحہ:258۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! د بیان په اخره کښې د سُنّتو فضیلت او د ژوند د ځینو ادابو بیانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِیْ فَقَدْ اَحَبَّنِیْ وَمَنْ اَحَبَّنِیْ کَانَ مَعِیْ فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبت وکړو هغهٔ زما سره محبت وکړو او چا چې زما سره محبت وکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي. [1]

ہر کام شریعت کے مطابِق میں کروں کاش! | یاربّ! تو مبلغ مجھے سُنّت کا بنا دے[2]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د ګوتمې په باره کښې سُنَّت او آداب

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! د نارینه د پاره د سرو زرو ګوتمه په لاس کول حرام کار دے. د دواړو جهانونو سردار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سرو زرو د ګوتمې په لاس کولو نه منع فرمائیلي ده ✿ نابالغه (یعني ډیر وړوکي) هلک ته (هم) د سرو زرو سپینو زرو کالے اچول حرام دے او چا چې ورته واچولو هغه به ګنهګاریږي، دغه شان د هلکانو په لاسونو او ښپو باندې [د څه علاج] د ضرورت نه بغیر نکریزې لګول جائز نه دي. زنانه یـې پخپله په خپلو لاسونو او ښپو باندې لګولے شي، خو که هلک له یـې ولګوي نو ګنهګارې به شي ✿ د اوسپنې ګوتمه د دوزخیانو کالے دے ✿ د نارینهٔ د پاره هغه ګوتمه جائز ده کومه چې د نارینهٔ د ګوتمې په شان وي یعني صِرف د یو غمي والا وي او که چرې په هغې کښې (د یو نه زیات یا) ډیر غمي وي نو اګر که هغه د سپینو زرو وي د نارینهٔ د پاره جائز نه ده ✿ بغیر د غمي نه ګوتمه اچول

1…تاریخ دمشق، جلد:9، صفحہ:343۔
2…وسائل بخشش، صفحہ:115۔

جائز نه ده ځکه چې دا ګوتمه نۀ ده بلکه ګړه ده ❁ د سپينو زرو د يو غمي والا ګوتمه چې وزن يې د څلور نيمو ماسو (يعني څلور ګرامه 374 ملي ګرامو) نه کم وي، اچول يې جائز دي ❁ پۀ اخترونو کښې ګوتمه اچول مستحب عمل دے. خو نارينه دې هُم هغه جائز والا ګوتمه اچوي ❁ نارينه له پکار دي چې د ګوتمې غمے د لاس تَلي طرف ته اَړَوي او زنانه دې يې د لاس شا طرف ته ساتي ❁ د سپينو زرو ګړه خاص د زنانۀ جامه ده د نارينۀ د پاره مکروه (تحريمي، ناجائزه او ګناه ده) ❁ زنانه د سرو زرو او سپينو زرو هر څو ګوتمې او ګړې پۀ لاس کولے شي، پۀ هغې کښې د وزن او د غمو د شميرې څه قيد نشته ❁ د اوسپنې ګوتمې ته د سپينو زرو خول اچول چې اوسپنه پکښې بيخي نه ښکاري، د دې ګوتمې پۀ لاس کول (د نارينه او زنانه دواړو د پاره) جائز دي. (1)

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدينه د بہارِ شریعت جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دامت برکاتہم العالیہ د 91 صفحو رساله 550 سنتیں اور آداب واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے.

اُلفتِ مصطفےٰ اور خوفِ خدا | چاہئے گر تمہیں قافلے میں چلو
گر مدینے کا غم چاہئے چَشمِ نَم | لینے یہ نعمتیں قافلے میں چلو(2)

اللّٰه پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي.

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم.

[1]...550 سنتیں اور آداب، صفحہ:57و58 ملتقطاً۔
[2]...وسائلِ بخشش، صفحہ:669۔

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعې [یعني د جُمعې د شپې] دُرُود

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَیِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِیِّ الْاُمِّیِّ الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاهِ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائیلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (یعني د جُمعې د شپې او زیارت مینځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شریف پابندۍ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدینه صلَّی اللہ علَیہِ واٰلہٖ وسلَّم دِیدار کوي او قَبْر کښې د داخلیدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدینه صلَّی اللہ علَیہِ واٰلہٖ وسلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰى سَیِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سیِّدُنا اَنَس رضی اللہ عنہ نه روایت دے چې تاجدارِمدینه صلَّی اللہ علَیہِ واٰلہٖ وسلَّم فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښیناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودریدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

---

1 . . . افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسۃ والخمسون، ص۱۵۱ ملخصًا

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازې:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازې بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِى رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رَضِىَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِىَ اللهُ عَنْهُم حيران شول چې دا څوك ذِى مَرتبه [يعني اوچتې مرتبې والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسې ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو.

---

1...القول البديع، الباب الثانى، ص٢٧٧

2...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص١٤٩

3...القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِیَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريڪه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

جَزَی اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونڪي د پاره فرښتې يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[2] راځئ چې مونږ ئې هُم په شريڪه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريڪه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِیْمُ الْکَرِیْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِیْم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

---

1... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر والدعاء، ٣٢٩/٢، حديث:٣٠

2... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة...الخ، ٢٥٤/١٠، حديث:١٧٣٠٥

3... تاريخ ابنِ عساكر، ١٥٥/١٩، حديث:٤٤١٥